عبدالهادي هادي

۲۰۲۲/۰۲/۱۷

تعبیر

ډک ښار کې تنهايي ده، غريبي ده ، زندګي ده
ستړيا ده، شورماشور دی، بيخوبي ده، زندګي ده

شرميږو نه، خوشاله يو، چې ساه باسو ژوندي يو
د خپل وجود پخپله ، قصابي ده، زندګي ده

د ژوند او مرګ پر پوله مې، لا هره ساه کې ته يې
راپاته همدا پاڼه ، ګلابي ده، زندګي ده

د تا د خوږو شونډو، ترنم به وي، نور څه دی؟
نغمه د يوه ښکلي ، ربابي ده، زندګي ده

د کرکې له غباره مې، ساتلې ده ، هر وخت کې
د زړه ښيښه مې پاکه ده، آبي ده، زندګي ده

تعبير د ژوندانه، د ابهام ، څه پوښتنۍ ملګرو
نيشه د يو، زړه ستړي، شرابي ده، زندګي ده

په سرکې د هادي، د سپينو ډکو، پروا مه کړه
جذبه د عشق يې پاتې، حسابي ده ، زندګي ده

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ